

۳
Ketabton.com
د وړوکي حارث د سفر يادښت
د سنايي پرمختيايي موسسې له خپرونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳

# دوړوکي حارث د سفر یادښت

خپرونکی : د سنايي پرمختيايي موسسه
مسول مدير : راز محمد «دليلي»
ليکونکی : محمد رفيع «کابلي»
پښتو ژباړه : سيد حامد «هاشمي»
انځورګر : سلطان حميد «فانوس»
کمپوز او ديزاين : سيد نذير «حسيني»
لومړی چاپ : ۱۰۰۰ ټوکه، د افغانانو لپاره د عالي تعليماتو اداره (SAFE) د ۱۳۷۷ کال د کب مياشت.
دويم چاپ : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۷۹ کال د وري مياشت.
دريم چاپ : ۵۰۰۰ ټوکه، US-BPRM د IRC-UGP له خوا د ۱۳۷۹ کال دتلې مياشت.
څلورم چاپ : ۲۰۰۰ ټوکه، USAID, TROCAIRE په مالي مرسته د ۱۳۸۰ کال د تلې مياشت.
پنځم چاپ : ۲۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه Children at Risk د ۱۳۸۱ کال د مرغومي مياشت
شپږم چاپ : ۱۰۰۰ ټوکه، دسنايي پرمختيايي موسسه د ۱۳۸۲ کال د تلې مياشت.
اووم چاپ : ۲۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه د ۱۳۸۲ کال د ليندی مياشت.
اتم چاپ : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه د ۱۳۸۳ کال دليندی مياشت.
اوسني چاپ :
نهم چاپ پښتو : ۱۵۰۰ ټوکه د سنايي پرمختيايي موسسې په مالي لګښت د ۱۳۸۵ کال د سلواغې مياشت
لسمه طبع پښتو : ۱۰۰۰ ټوګه د سنايي پرمختيايي موسسې په مالي مرسته د ۱۳۸۶ کال د کب مياشت

ددې کتاب ټول حقوق د سنايي پرمختيايي
موسسې پورې اړه لري.

په کابل کې پته : پنځم سړک، انصاري څلور لارې د محمد علم فيض زاد ليسې خواته
تيلفون : ۰۲۰ - ۲۲۰۱۶۹۳
پوست بکس : ۱۸۱
برېښنا ليک : sieal@brain.net.pk
انټرنيټ پاڼه : www.sanayee.org
په پاکستان کې پته : اورکزي پلازې شاته، يونيورسټي ټاون، پېښور پاکستان.
تيلفون : ۰۰۹۲ - ۹۱ - ۵۸۴۲۱۵۵ - ۹۱۵۸۲۱۶۵
فکس : + ۹۲ + ۹۱ - ۵۸۴۵۱۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

٣

تصويري کيسه

# د وړوکي حارث

# د سفر يادښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوړوکي حارث د سفر یادښت

کله چې((دوړوکي حــــارث)) کتاب، لوســـــتونکو و لوســـــتلو، ټولو کوچنیانو ځانونه د حــارث په څیر ګڼل او د ســفر ذوق و رســـره پیدا شوتر څویوتره(کاکا) و مومي اوپه سفر سره ولاړشي. مونږ ته یې لیکونه راواستول او تلفونونه یې وکړل چې څرنګه کولای شي د نړۍ شا او خواته سـفر وکړي؟ زمونږځواب دوي ته داؤ چې د نړۍ په هکله مطالعه وکړي او ځانونه دنړۍ د احــوالو څخه خبــر کړي. د پایلې په توګه(دوړوکي حــارث) کتاب زرګونه ټوکه دلوســتونکو د پوښتنو د ځواب لپاره موثر وو. ددې لپاره چې لاسونه موتش پاتې نه شـي بـیا هـــم ددې کتــــاب د چاپولـــو په هکلـــه هـــڅه کـــوو چې دغوښتونکواومطالعه کوونکو د تندې تسکین وکړو.

والسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

دغه کتاب دریم کتاب دی چې د کوچنیانو لپاره دخپرولودلړۍ په برخه کې د سنایي پرمختیایي موسسې(SDO)له خوا د چاپ په ګاڼه ښایسته کیږي. دا کتاب دومر په زړه پورې او ګټور دی چې په لوستلو سره یې په زړه پورې، ګټور او نه هیریدونکي موضوعات زده کیږي او یادښت یې د تل لپاره دلوستونکو په ذهنونو کې پاتې کیږي.

دغه کتاب دیو هوښیار اودقیق کوچني صحنې او موضوعات چې دنړۍ څو ملکونو ته دپلار دیو دوست سره چې دی یې(کاکاجان) بولي تشریح کوي. ښکلی تصویرونه ،نقشې او د مختلفو ممالکو بیرغونه د کتاب ښکلا لازیاتوي.

ددې کتاب دنشر ولو موخه او مقصد دکوچنیانو د ذهنونو پرمختیا ، پیاوړتیا اود معلوماتو ډیر والی دی .

والسلام

راز محمد «دلیلي»


(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوړوکي حارث د سفر یادښت

کله چې زه د دولســو کلو نوهلك وم زموږ په ګاونډ کې یوه سپین سرې مهربـانه ښځه وه چې مونږ ته بـه یې کیسې کولې. هغې بـه ویل: پخوا یو ښوونکی وٴچې یوبــڼ او یو طوطي یې درلودل. کله به چې ښوونکی له ښوونځي څخه کورته راغی، خپل بڼ ته به تللو او خپل طوطي به یې هم دځان سره وړلو. دطوطي قفس بـه یې دونې په یو ښاخ کې ځوړندولو او خپله بــه یې دونې ســیوري لاندې سبــق وایه. کله بــه چې ښوونکي چاته ویل چې ښه راغلاســت طوطي بـه یې هم په خپله ژبـه غژ غژ کاوه اوویل بـه یې ښه راغلاست، ښه راغلاست.

د کلي هلکانوښوونکي ســـره ډیره مینه لرله اوهغه ته بـه یې ښاغلی ښوونکی صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

وایه. هغوي به بڼ ته راتلل، دونو سیوري لاندې به د ښوونکي خواته راټولیدل او د هغه نه به یې غوښتل چې د تیرووختونو کیسې ورته وکړي. ښوونکي به د نړۍ، غرونو، سیندونو، لمر، سپوږمۍ او ستوروکیسې کولې. طوطي به هم په شوق او ذوق سره دې کیسو ته غوږ نیولو، هغه به هم د هلکانو په شان ښوونکي ته ښاغلي ښوونکی صاحب وایه.

ښوونکي یوه ورځ هلکانوته وویل: (( په نړۍ کې ډول ډول خلک ژوند کوي. د هغوي دین، ژبه، رنګ، پوټکی، رواج او خوراك له مونږ سره توپیرلري.))

د کلي د هلکانوڅخه یوهم حارث وُ چې ډیر لایق او تکړه هلك وُ. حارث هوډ درلودلو

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د نړۍ د خلکو د رواجونو په هکله په ډېر څه وپوهېږي. يوه ورځ کله چې کورته راغی، خپل پلارته يې وويل: ((پلار جانه هيله لرم چې د نړۍ شا او خواته سفر وکړم او وګرځم او د ډول ډول خلکو په هکله په څه وپوهېږم او څه زده کړم.))

د حارث پلار چې يوښه او مهربان سړی ؤ ويې ويل: (ښه ده زړګيه، اما څرنګه به امکان ولري چې ته يوازي سفر وکړې؟) حارث حيران او ناهيلی شو او د ځان سره يې وويل چې لاخو وړوکی يم او امکان نلری چې يوازې سفرو کړم .

وروسته له هغه حارث شپه او ورځ غمجن ؤ هغه يوه ورځ ښوونکي ته ورغی او مشـــوره يې ورڅخه وغوښتله. ښوونکـي ورتـه وويـل

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

چې غـوره او ښه لاره داده چې تـه د جغرافيـې کتابونه ولولې ځکه چې هر څه په کتابـونوکې شته دي.

يوه ورځ کله چې حـــــارث د جغرافيې کتاب لوستلو، د کورور وته کول شـو. کله چې يې د کورور خلاص کړ، وېې ليدل چې پلار يې د هغه يو پخواني دوسـت او آشـنا سـره کورته ننوتل. د حـارث د پلار دا آشـنا سـوداګر و چې د نړۍ مختلفو ملکونو ته يې سفرونه کول. کله چې د ژمي رخصتۍ را ورسـيدلې، د حــارث پلار هغه د خپل سـوداګر آشنا سـره په سـفر وليږد. حـارث ځان سـره کالي، کتابچه او قـلم واخيســـتل ، مور، پلار، خويندو او وروکي ورور سره يې مخه ښه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

له کومه وخته چې حـــــارث له کور څخه حـرکت وکړ، خپل ټول روځني یاد ښتونه یې په خپله کتابچه کې لیکل. دغو یاد ښتونو تـه یـې د (وړوکي حارث د سفر یاد ښتونه) نوم ورکړ. هغه د خپلې سفرنامې په لومړی مخ کې داسې ولیکل:

(اوس زه د خپل د پلار آشنا سره چې هغه ته کاکا جان وایم د هندوستان په لاره روان یم. هغه ستړی شوی دی او په موټر کې ویده دی، مګر زه ویښ یم او د موټر له ښیښې څخه د بـــاندې ګورم. سره د دې چې ژمی دی خو هوا ګرمیږي.)

نن د مرغومي د میاشــــــتې اتمه نیټه ده او مونږ هندوســـتان ته رســـیدلي یو. د هند پلازمینه د ډهلي ښار دی د هند د نفوســـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېره ۹۷۰ میلونه ده.

یو هندوستانی هلك پلاستیکي خلطې پلوري. هغه وایي چې په هندوستان کې د تیرو دسکورو، اوسپنې او سپینې طلا معدنونه زیات دي. له هغه مې و پوښتل چې د کوم ښار یې؟ ځواب یې راکړ: زه د بمبئي د ښاریم او ویې ویل چې مونږ په هندوستان کې پیلان اوشیدې لرو. د غه هندي هلك وویل په هندوستان کې د ښونځي هلکان او نجونې په غورسره د ښوونکي درس ته توجه کوي.

نن وروسته له دوه او نیو له هندوستان څخه سعودي عربستان ته راغلو. دلته هم د هندوستان په شان هوا ګرمه ده. دلته یو عربی هلك ښکاري بازلري له هغه مې و پوښتل د

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

عربستان پلازمینه کومې خواته ده. عربي هلك وخندل او ويې ويل: همدا د رياض ښار د عربستان پلازمينه ده او مکه مکرمه چې د مسلمانانو قبله ده هم په سعودي عربستان کې ده.

په عربستان کې د خرما ونې ډيرې دي، نفوس يې ۱۲ ميليونه دی او خلك يې په عربي ژبه خبرې کوي. هغه عربي هلك ماته يو قلم د ډالۍ په ډول راکړ. هغه وويل چې زمونږ ګران او خوږ پيغمبر حضرت محمد صلي الله عليه وسلم هم د سعودي عربستان د مدينې په ښار کې دفن دی.

ډير ستړی اوستو مانه يم، نن د ايران پلازمينې تهران ته راورسيدم. د ايران خلك

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ په شان په فارسي ژبه خبرې کوي. د ایران هلکان زیار کښه او با نظافته خلك دي.

یو ایرانی هلك چې آغا ناصر نومیږي، ورځپاڼې پلوري. هغه ډیر معلومات لري او وایي چې ایران ۵۰ میلیونه نفوس لري. ورځخه مې و پوښتل چې ته د همدې تهران یې؟ ویې ویل چې نه ګرانه زه اصلاً د اهواز یم خو دلته دژمي در خصتیو د تیرولو لپاره راغلم او ورځپاڼې پلورم. هغه وویل: مونږ په ایران کې اوسپنه او بـه کوو او له هغې ځخه ماشینونه جوړوو. ناصر یوه ورځپاڼه په یو تومان پلوري. ما خپل خامکي دستمال هغه ته د ډالۍ په توګه ورکړ. ناصر وویل: ګرانه ستاسو له ډالۍ ځخه مننه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

له ایران څخه عراق ته ولاړو. عراق او ایران دوه ګاونډي ملکونه دي. د عراق پلازمینه د بغداد ښار دی او عراق ۱۸ میلیونه نفوس لري.

د عراق هلکان د مور او پلار له اجازې پرته هیڅ کار نه کوي. هغوي د عربستان د خلکو په شان په عربي ژبه خبرې کوي. ځو تنه هلکان چې لوېې جامې پرځان او چلتا رونه یې پر سر وو زما خواته راغلل. یو یې د بصرې او بل د موصل د ښار دی هغوي ډیر با نزاکته او ډیر مؤدب ښکیدل. ما هغوي ته افغانۍ روپۍ ورکړلې او له هغوي نه مې یو دینار واخیست. زه دا ټولې پیسې ساتم او د هغو ټولګه (کلکسون) جوړوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستـه له يوې اونۍ له عراق څخه ووتلو او نن خرطوم د سودان پلازمينې ته ورسيدلو.

د پيل پوزې ته خرطوم وايي، خو سـودان پيلان نه لري. د سـودان نفوس ۲٦ مليونه دی او خلك يې تورپوستي دي. يو هلك چې د عطبره دولايت دی په عربــي وايي: ((تفضل معنا)) يعني (( له مونږ سره مهرباني وکړئ!)) ما ورته وويل: ژوندی اوسئ! د سـودان ځوانان د ورځپاڼو لوسـتلو سـره ډيره مينه لري او د مطالعې پروخت کتاب خپلو سـترګوته نژدې نه نيسي.

پرون د مرغومي پر ۱٥ مه نيټه د جمعې په ورځ توکيو د جاپان پلازمينې ته ورسيدلو. د جاپان خلك ډير پاك او با نظافته دي. هغوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

هره ورځ خپل غاښونه په برس او کريم سره وينځي. يو هلك د هيرو شيما له ښار څخه راغلي او كبان پلوري. خلك هغه ته ((ين)) وركوي او كبان اخلي. دغه جاپانى هلك د حساب ماشين لري او ډير هوښيار هلك دی. هغه له يو څخه تريو مليون پورې حساب زده لري.تيره شپه د جاپان په تلويزيون كې وويل شول چې جاپان له څو جزيرو څخه جوړ شوی او۱۲۵ مليونه نفوس لري. په جاپان كې ورغورځونكي(آتش فشانونه) كيږي.د جاپان دخلكو دين بودايي دی. څو ورځې وروسته به ماليزيا ته ولاړ شو.

نن د مرغومي ۲۲ مه نيټه ده، زه او زما كاكاجان كوالالمپور د ماليزيا اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

مملکت پلازمینې ته ورسېدلو. ډیر زده کوونکي د پنانګ او کوچنګ څخه پلازمینې ته د درس ویلو لپاره راځي او په پلازمینه کې درس وایي.

دمالیزیا نفوس ۱۷ ملیونه دی او خلك په مالایي او چینایي ژبه خبرې کوي. دمالیزیا ټول هلکان لوبغاړي او مکتبي دي. هغوی ټول پوهیږي چې یو کیلو متر زر متره دی او یو متر سل سانتي متره کیږي. د هغوی دوه تنه پوهیدل چې د افغانستان پلازمینه د کابل ښار دی.

پاریس د فرانسې پلازمینه او یو ښایسته او دلیدلو وړ ښار دی. مونږ د مرغومې د میاشتې په ۲۸ مه نیټه دلته راورسیدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

اونيغ (مستقيماً) د ايفل د برج ليدلو او وروسته له هغه د کتابونو يوپلورنځي ته ولاړو. ما يو کتاب وپيرو دلو. په کتاب کې ليکلي وو چې فرانسه ٥٦ مليونه نفوس لري.

د فرانسې هلکان او نجونې هره ورځ له خپل مور او پلار څخه يو يو فرانک اخلي او ذخيره کوي يي. هغوي په کتابخونه کې په لوړ آواز سره خبرې نه کوي او په کتابونو کې هم ليکل نه کوي.

کله چې څوك له يو فرانسوي څخه د کوم ځای پته وپوښتي په ډيره ښه توګه ورته پته ښايي. ددې له کبله چې ګرمو او سړو منطقو ته مي سفر وکړ اوس په والګي (زکام) اخته يم او پرينجي کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلواغې د میاشتې په ٤ مه نیټه له فرانسې څخه الجزایر ته په کښتۍ کې ولاړلو.

الجزایر یو افریقایي هیواد دی. پلازمینه یې د الجزیرې ښار دی. د الجزایر خلک میلمه پال دي خو له سګرټ څښوونکو میلمنو څخه خوښ نه وي.

الجزایر د افغانستان څخه څلور واره لوی دی. د الجزایر خلک په عربي او فرانسوي ژبه خبرې کوي. یوه ښځه چې د الګار دولایت او خاوند یې د عین الصالح د ولایت وو. هغوي ویل چې د آهاګار په ښارکې خلک په نوبت سره موټرونو ته ورپورته کیږي او کله چې مشران خبرې کوي د الجزایر وړوکي او نوي ځوانان خبرې نه کوي او چپه خوله هغوئ ته غوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

نیسي.

له الجزایر څخه انګلستان ته راغلو، د سلواغې د میاشتې په ۱۲ مه نیټه له کښتۍ څخه په بندر کې راکوز شوو او په یو ټکسي موټر کې د لندن ښار خواته چې د انګلستان پلازمینه ده راغلو.

کاکا مې د ټکسي موټر چلوونکي ته ۱۲ پونډه ورکړل. موټر چلوونکي په لیاره کې مونږ ته وویل: زه د مانچستر د ښار یم. هغه زمونږ د معلوماتو لپاره وویل چې انګلستان ۵۷ ملیونه نفوس لري او مونږ په لندن کې په انګلیسي ژبه خبرې کوو. موټر چلوونکي وویل چې زما زوی ډیره مینه لري چې افغانستان ته سفر وکړي او د وزلوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

سیالیۍ وویني خو زه پیسې نه لرم چې افغانستان ته یې ولیږم. هغه وویل چې وړه لور مې پوهیږي چې یو ملیون لس لکه کیږي.

کاکاجان مې په لندن کې ویلي وو چې ژر به ایتالیا ته ولاړ شوو اوهلته به د ایتالیا له موزیم څخه لیدنه وکړو. له همدې امله کله چې دسلواغې په ۱۸ مه نیټه د ایتالیا پلازمینې د روم ښار ته ورسیدلو مونږ د ایتالیا موزیم ته ولاړلو. کله چې کاکا مې موزیم ته د ننوتلو پارچه(ټکټ) اخیستلو موظف سړي ورته وویل چې زمونږ پیسې لیره دي، ماته لیره پیسې راکړه.

ایتالیا د ګوګړواودمر مر دتیږو معدنونه لري. مونږ د میلان په ښار کې ژوبڼ ته ولاړو او

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته مو خاروي ولیدل. ایتالیا ۵۸ ملیونه نفوس لري چې ټول یې باسواده اوبا اخلاقه دي. کله مې چې د ایتالیا نقشه ولیدله دموزې په شکل وه. کاکا مې وویل چې دوه ورځې وروسته یعنې د سلواغې د میاشتې په ۲۰ مه نیټه د الوتکې په واسطه چین ته سفر کوو.

نن د سلواغې د میاشتې ۲۰ مه نیټه ده او مونږ څو دقیقې مخکې د ۱۱ بجو څخه د چین پلازمینې پکنګ کې له الوتکې څخه ښکته شوو. کاکاجان مې دلته چیني لوبني او وریښم اخلي چې افغانستان ته یې یوسي. چینایي هلکان هر یو، یو بایسکل لري. په چین کې نفوس ډیر زیات دی. د چین نفوس

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱ سوه ملیونه دی چې ۵۵ ځله د افغانستان له نفوس څخه زیات دی. دنانکن په ښار کې یو سپین ږیری سړی تکریچه پلوري او خلك ورته((یوان)) (چینایي پیسې) ورکوي. د چین ماشومان ترکاري خوښه لري او د ترکارۍ له خوړلو څخه وړاندې ترکاري او خپل لاسونه ښه وینځي.

کله چې کاکاجان مې چینایي لوښي او وریښم له چین څخه وپیرودل، زه او کاکاجان مې د موټر په واسطه پاکستان ته راغلو. سره ددې چې د ژمي موسم دی خو هوا په پاکستان کې ګرمه ده. خلك دلته په اردو ژبه خبرې کوي. مونږ یو وار اسلام آباد ته ولاړلو او د جمعې لمونځ مو د فیصل په مسجد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

اداکړ. پاکستان ۱٤۰ ملیونه نفوس لري. دلته ځینې هلکان د ښښتو په بټیو کې کارکوي. یو شمېر هلکان یخې اوبه یا ګنې پلوري. ما مې کاکاجان ته وویل: زه خپل پلار، مور، خویندو او ورور پسې خپه شوی یم راځه چې افغانستان ته ولاړ شوو.

د کب په ۲۵ مه نیټه په موټر کې تورخم ته راغلو، د غرمې ډوډۍ مو په جلال آباد کې وخوړله. کله چې افغانستان ته داخل شوو ومولیدل چې افغانستان له هر ځای څخه ښکلی دی.

هوا او د خلکو زړونه یې پاك دي. د ځان سره مې وویل چې افغانستان د الله تعالی(ج) لوی نعمت دی چې افغانانو ته یې ورکړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

دښوونځيو شروع کيدو ته پنځه (۵) ورځې پاتې دي. کله چې ښوونځي ته ولاړشـــم، خپله دغه دســـفر ليکنه خپلو ټولګيوالو ته لولم او ورتـه وايم: ((ګرانـو ټولګيوالـو! مـا د نـړۍ ځو ملکونه وکتل يوهم دافغانســـتان په شـــان ښکلى نه و، راځئ چې دافغانستان په قدر پوه شـــوچې دغه دجنت ټوټه زمونږ اوستاســـو ده. راځئ چې زده کړه وکړو او زيار وباســـو چې دا جنـــګ ځپلـــى، وران ـ ويجـــاړ هيـــواد و دان اوښير از کړو اود خپل ټاټوبـــي په غيږ کې آرام او سوله ييز ژوند وکړو.

پاى

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**